Pasjtoe - Pachto

# د ساتنوالي خدمات
# (ګارډين شپ)



څنګه کولای شی له تاسی سره مرسته وکړي؟

Federal Public Service
Justice

.be

# بلجیم ته ستاسي د راتګ په وخت

آیا ستاسي عمر له اتلس کالو څخه کم دی؟ او ایا تاسي بلجیم ته د خپل مور یا پلار نه بغیر راغلی یئ؟ ایا تاسي د چا د مرستي او د استوګنې په تکل کښې یئ یا چیرته پولیسو و درولي یئ؟ که داسي وي نو د ساتنوالي خدمات چې د عدلیې وزارت لاندې کار کوي، په بلجیم کښې ستاسي د موجودیت په اړه هغوې ته خبرتیا ورکولای شئ.

د ساتنوالي خدمات به له هرڅه مخکي دا معلوموي چې ستاسي د استوګنې ځای شته او کنه. که چیرته ستاسي د استوګنې ځای نه وي نو ستاسي لپاره د داسې ځای بندوبست کوې چیرته چې به ستاسي ساتنه کیږي او تاسي ته به خوراك څښاك او د ویده کیدو ځای درکول شي.

که چیرته تاسي له یوې کورنۍ یا ملګرو یا د مهاجرینو په پناه ګاهونو کښې میشته یئ نو یاد ساتئ چې د ساتنوالي خدماتو ته د هغې ځای مکمله پته اود ټیلې فون نمبر خامخا ورکړئ. ځکه چې دا ډیره مهمه ده چې هغوې ته ستاسي د ځای پته معلومه وې.



# هغه شرطونه چې تاسي یې باید پوره کړئ

د ساتنوال د مرستي د ترلاسه کولو لپاره ضروري ده چې:

- ستاسي عمر له اتلس کالو څخه کم وي
- تاسي په بلجیم کښې یاست او مور او پلار درسره نه وي.
- له داسي هیواد څخه راغلي یئ چې د یورپې اقتصادي سیمې څخه بهر وي.

په بلجیم کښي مو د پناه اخستو لپاره درخواست ورکړې وي یا په بلجیم کښې د استوګنې اجازت نامه ونه لرئ.

د دې لپاره چې ستاسي په پلانونو ځان پوه کړي، د ساتنوالي خدمات زیات نه زیات معلومات راغونډوی او په دې لړ کښې له تاسي سره لیدل هم غواړي.
تاسي پخپله هم له خدماتو سره تماس نیولای شې.
که چیرته تاسی دا ټول ضروري شرطونه پوره کولای شئ نو د ساتنوالي خدمات به تاسي ته زر ترزره یو ساتنوال (محافظ یا ګارډین) هم وټاکي څوك چې به له تاسي سره په د مسایلو په هوارې کښې پوره پوره مرسته کوي.

د یورپې اقتصادي سیمې هیوادونه دا دي: جرمنی، استریا، بلجیم، ډنمارك، هسپانیه، فرانسه، یونان، فن لینډ، ایرلنډ، اټالیه، لکسمبرګ، نیدرلینډز (هالنډ)، پرتګال، برطانیه (انګلستان)، سویډن، قبرص، هنګرې، استونیا، پولنډ، چیك جمهوریت، سلووینیا، لاټوییا، لیتوینیا، سلواکیا، مالټا، رومانیا، بلغاریا، ناورې، آیس لنډ، لیښټن شټاین.

## ساتنوال (ګارډین، محافظ) څوك دي؟

که چیرته تاسي په بلجیم کښي اوسیږئ نو ساتنوال هغه کس دې چې له تاسي سره تر هغه وخت پورې مرسته کوي ترڅو چې ستاسي عمر اتلس کالو ته نه وي رسیدلای. هغه به ستاسي استازیتوب (نمایندګي) او سرپرستی او مرسته کوي. هغه به د بهرني وګړو په دفتر، پوهنتون او د استوګني په ځایونو کښې ستاسي مرسته کوې او تاسي ته به قانونی طریقی ښیي.هغه به ستاسي سوالونه او کشالي اورې او د مستقبل غوره فیصلو په اړه به ستاسي سره خبرې اترې کوې.

ساتنوال به ستاسي او د یو وکیل تر منځ رابطه جوړوې چا ته چې به ستاسی ته د اداري او قانونی طریقو د پوره کولو په لړ کښې اړتیا وي. د وکیل فیس او خدمات به وړیا (مفت) وي.

ستاسي په توافق او مرسته به ساتنوال لاندني مسئولیتونه لري.

- هغه به په قانونی چارو او په خاصه توګه په بلجیم کښي ستاسي د استوګني په اړه هر ډول قانونی چارو کښې استازیتوب کوې.
- هغه به له ستاسي سره د اعتماد فضا جوړوي او په منظمه توګله له تاسي سره اړیکه ساتي.



- هغه به ستاسي لپاره د مناسب اوسيدو ځائی بندوبست کوی او په ښوونځي کښې به ستاسي داخله کوې او د ضرورې طبی او روحی مرستو بندوبست به هم کوې.
- هغه به له تاسي سره کښيني او ستاسي د راتلونکي پلانونو په اړه د اوړد مهاله حل لارو لټه کوي.

هغه به ستاسي د مور پلار په درك لګولو کښې مرسته کوې.

تاسي ته به يو ليک درکړ شې چې په هغه کي به ستاسي د ساتنوال نوم او له هغه سره د تماس نيولو لپاره ټول تفصيلات ورکړای شوې وې. دا ليک تل له ځان سره ساتئ ځکه چې له چارواکو سره د خبرو اترو په وخت به دغه ليک تل ستاسي پکار راځی.

ساتنوال ته به هم له تاسي سره د رابطی لرلو لپاره يو تفصيلی ليک واستولای شي. د دې ليک په مرسته به ساتنوال وکولای شي چې زر تر زره له تاسي سره تماس ونيسي. تاسي هم چې کله غواړئ نو د خپل ساتنوال سره تماس لرلې شې.

## ستاسي رأيه (نظر) مهمه ده

که چيرته تاسی له خپل ساتنوال سره اختلاف لرئ نو په دې
لړ کښې له هغه سره خبرې اترې وکړئ.

د ساتنوالي خدمات هم ستاسي غږ اورى.

که چرې بيا هم شخړه هواره نه شې نو دا شخړه به قاضی
ته وړاندې کړاى شې.
د ساتنوالي له سر ته رسيدو نه وروسته به هغوې تاسي ته
يوه سوالنامه ولېږي. د دې سوالنامې په واسطه به هغوې له
تاسي سره د شوي مرستي په هکله ستاسي رأيه معلومه
کړي.

## ساتنوالي کله سرته رسيږي؟

ساتنوالي په لاندنيو حالاتو کښې ختميږى شى.

- ستاسي پلار يا مور په بلجيم کښې وې.
- ستاسي عمر اتلس کالو ته ورسيږي.
- تاسي بلجيم پرېږدئ.
- تاسي د بلجيم مليت تر لاسه کړئ.
- تاسي د استوګنې اجازت نامه تر لاسه کړئ.

## عملي يادوونه:

له خپل ساتنوال يا د ساتنوالي له خدماتو سره هميشه تماس
وساتئ. هغوى ستاسي د مرستي لپاره دي.



د یادونې وړ ده چې له ځان سره وړوکې کارت تل ولرئ چې پرې د خدماتو په اړه تفصیلات او ستاسې د ساتنوال په هکله معلومات ذکر شوي. دا ځکه مهمه ده چې چارواکو ته به ستاسي له ساتنوال سره د تماس نیولو په وخت د دې ضرورت پیښیږي.

د ساتنوالی له خدماتو، ساتنوال او چارواکو سره د لیدو کتو د وختونو درناوی وکړئ او تل هغو ته ژمن اوسئ.

که چرې تاسي خپل د ټیلی فون نمبر یا خپل د استوګنی ځائی بدل کړئ نو خامخا خپل ساتنوال ته د تماس نیولو لپاره نوي معلومات ورکړئ.

# Contact

## Guardianship Service

115 boulevard de Waterloo
1000 Brussels
Telephone: 078 15 43 24
Fax: 02 542 70 83

## Your gardian

Name and first name ..........................................................
Address ..........................................................
..........................................................
Phone number / Mobile phone ..........................................................
E-mail ..........................................................
Fax ..........................................................

RESPONSIBLE EDITOR : A. BOURLET BD DE WATERLOO 115 - 1000 BRUSSELS D/2010/7951/PS/754

Communication Service
Boulevard de Waterloo 115
1000 Brussels
Tel.: 02 542 65 11
www.just.fgov.be